د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافــــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد

دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۲۶/ ذو الحجه/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۲ / جوزا/۱۴۰۵هـ، ش**

# د حج اداء کولو وروسته خپل عادات او اعمال اصلاح کول او په هغو وعدو ثابت پاتې کيدل چې د الله تعالیٰ سره شوي دي.

**بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ**

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى، وَقَدَّرَ فَهَدَى، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى وَالصِّفَاتُ الْعُلَا، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ الْمُصْطَفَى وَرَسُولُهُ الْمُجْتَبَى، صَلَّى اللَّهُ وَسَلَّمَ وَبَارَكَ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ فِي الْآخِرَةِ وَالْأُولَى، اما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:( إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ(۳۰) نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ(۳۱) نُزُلاً مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ).فصلت:(۳۲)

**درنو حاضرينو !**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله جل جلاله په هغو خلکو خصوصي انعام کړی دی ، چې سږ کال حج ته تللي ؤ او د حج د فريضې د اداء کولو وروسته په خير او خيريت سره خپلو کورونو ته را ستانه شوي دي او د نورو پاتې حجاج کرامو د راتګ سلسله لا جريان لري.

الله تعالی دې ددوی حج ، د مغفرت دعاګانې ، زحمتونه او د الله تعالی سره شوې وعدې او تعهدات په خپل دربار کې قبول کړي او څوک چې حج ته نه دي تللي ، الله جل جلاله دې دهغوی نصيب په حج کې وکړي.

واقعاً چې دوی داسلام عظيم رکن اداء کړ چې له امله يې مسلمان له ګناهونو څخه داسې پاکيږي لکه چې د مور څخه نوی پيدا شوی وي . په حديث شريف کې راځي، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»صحيح البخاري ت (۲/٤)

ژباړه: څوک چې خاص د الله تعالی درضا لپاره حج وکړي او په حج کې د فحش او دجماع خبرې ونکړي او په حج کې فسق او ګناه ونکړي، ګرځي (پاک له ګناهونو څخه) په شان د هغې ورځې چې زيږولې وي ده لره مور. يعنې له ګناهونو پاکيږي.

او د قبول شوي حج لپاره د الله تعالی جنت واجبيږي . په حديث شريف کې راځي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:«وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلاَّ الْجَنَّةُ ». صحيح مسلم (۱۰۷/٤) ژباړه: د قبول شوي حج عوض نشته ، مګر جنت دی.

د همدې امله د حاجي سره ملاقات كول او د هغه څخه ددعاء غوښتنه په شريعت كې مستحب عمل دی؛ ځکه چې حاجي په خپلو سترګو باربار بيت الله ته كتلي دي، او دحجر الاسود استلام يې كړی دی او په حج كې يې د اسلامي شعائرو او مشاعرو زيارت كړی دی لكه منى ، مزدلفه او عرفات او په مدينه منوره كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مباركه روضه او مسجد النبوي او داسې نور.

په حديث شريف كې راځي. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَصَافِحْهُ، وَمُرْهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ، فَإِنَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ» مسند أحمد مخرجا (٩/ ٢٧٢)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كله چې ته دحاجي سره مخامخ شوې ، نو پر هغه سلام واچوه او د هغه سره مصافحه وكړه او هغه ته ووايه چې ستا لپاره د ګناهونو ښښنه وغواړي مخكې له دې چې هغه كورته داخل شي، ځکه چې هغه ته ښښنه شوې ده.

حج د الله جل جلاله سره د هغه وعدې او تعهد تازه كول دي چې په عالم الارواح كي زمونږ ارواحو دالله جل جلاله سره كړی وه. او هغه وعده الله تعالى حجر الاسود ته سپارلې او هركله چې حاجي د حجر الاسود استلام كوي ، نو د قيامت په ورځ به حجر الاسود د استلام كوونكي د وعدې او تعهد باندې ګواهي وركوي.

د تلبيې «لبيك اللهم لبيك، لبيك لا شريك لك لبيك، إن الحمد والنعمة لك والملك، لا شريك لك» په ويلو سره حاجي د تل لپاره د الله تعالى د هغه د حكمونو دمنلو وعده او تعهد وكړ او كله چې حاجي د حجر الاسود داستلام پر وخت دا دعاء ووايي:«اللهم إيماناً بك وتصديقاً بكتابك، ووفاءً بعهدك، واتباعاً لسنة نبيك محمد صلى الله عليه وسلم» تبيين الحقائق (٢ / ١٦)، نو ده د الله تعالى سره وعده وكړه چې ای الله ! ما د ايمان په بناء او ستا سره دعهد او وعدې د وفاء په بنا باندې ما د حجر الاسود استلام وكړ او دا وعده كوم چې نور به خپل عادات او اعمال اصلاح كوم او كومې خطاګانې چې مخكې له ما څخه شوي دي هغه راته وبښه او تاسره ددې خبرې وعده كوم ، چې زه به تيرو ګناهونو، ظلمونو او جرمونو ته نه ګرځم؛ بلكې ستا او ستا د پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم د حكمونو، هداياتو او اوامرو اتباع او پيروي به كوم.

په عرفات كې -چې مكان الميثاق او يوم الميثاق ورته ويل كيږي- وقوف په حقيقت كې د عالم الارواح د وعدې او تعهد تجديدول دي. ځكه چې په عرفات كې الله جل جلاله زمونږ له ارواحو څخه دايمان وعده اخيستې وه.

لكه چې په حديث شريف كې راځي، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَخَذَ اللَّهُ الْمِيثَاقَ مِنْ ظَهْرِ آدَمَ بِنَعْمَانَ - يَعْنِي عَرَفَةَ - فَأَخْرَجَ مِنْ صُلْبِهِ كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَأَهَا، فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ، ثُمَّ كَلَّمَهُمْ قِبَلًا» قَالَ: {أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ} [الأعراف: ١٧٣] مسند أحمد مخرجا (٤ /٢٦٧)، شرح مشكل الآثار (١٠ /٣٠)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: الله تعالی مضوبطه وعده واخيستله د شا د آدم عليه السلام څخه د نَعْمَانَ په مقام کې يعني په عرفات کې ، نو راوه يې ويستل د شا دآدم عليه السلام څخه ټوله اولاده چې الله تعالی پيدا کړي ؤ، نو هغه يې وه شيندل په مخ د آدم عليه السلام کې په شان د ميږه تانو بيا يې ورسره خبرې وکړې او داسې يې ورته وفرمايل: أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۚ او وفرمايل الله دوی ته آيا نه يم زه رب ستاسې؟ ووېل دوی (او اقرار يې وکړ) هو (ته رب زمونږ يې په ربوبيت د الله) گواه کړه مونږ خپل نفسونه ( د دې جهته) چې و نه وايئ تاسې په ورځ د قيامت کې چې بېشکه مونږ وو له دغه (توحيد) غافلان يا (د دې جهته چې) ونه وايئ تاسې چې بېشکه همد خبره ده چې شرک غوره کړی وو پلرونو زمونږ پخوا له مونږه او وو مونږ اولاده پس له دوی نه (نو اقتدا کړې وه مونږ په هغو پسې) نو آيا هلاکوي (په عذابوې ته يا الله) مونږ په کار باندې چې کړی وو باطله عمل کوونکو (مشرکانو).

د حج تقاضا او غوښتنه داده چې حاجي بايد د هغه وعدو او تعهداتو په اساس چې له الله تعالی سره يې په حج کې کړي دي خپل عادات او اعمال اصلاح کړي، چې د حج څخه وروسته به په چا ظلم نکوي، ناحقه وينه به نه تويوي او د ظالمانو ملگرتيابه نکوي ، د چا مال به په ناروا لارو او حيلو نخوري، سود به نکوي، رشوت به نه اخلي او ناروا او مشکوک معاملات به نکوي، صله رحمي به پالي او په ټولنه کې به د خصومتونو په حل کې برخه اخلي، د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حکمونو او اوامرو پيروي به کوي، داسلامي نظام سره به مرسته کوي، خلک به ښيگڼو ته رابولي د ناروا او بدو عاداتو څخه به ځان ساتي. په جماعت سره د لمانځه په اداء کولو کې به کوښښ کوي، د خور، لور ميراث به نه خوري او د اولادونو ترمنځ به عدالت کوي.د قبول شوي حج له علاماتو څخه يوه علامه داده چې ددنيا سره به ډيره علاقه نه ساتي او دآخرت په کارونو کې به کوښښ کوي.

حسن بصري رحمه الله څخه يو کس د قبول شوي حج د علاماتو په اړه پوښتنه وکړه. حسن بصري رحمه الله ورته وويل:( أن يرجع زاهدا في الدنيا راغبا في الآخرة ) مرقاة المفاتيح (٥ /١٧٤١)

ژباړه: (د قبول شوي حج علامه داده چې حاجي له حج څخه ) په داسې حالت کې راوگرځي چې له دنيا څخه مخ گرځوونکی وي او دآخرت په باره کې رغبت درلودونکی وي.

د حج څخه وروسته د حاجي سلوک او عادات بايد د هغو وعدو ترجماني وکړي، چې ده دالله تعالی سره په حج کې کړي دي. خپله ژبه به له غيبت، نميمت او چغل خورى، بهتان ، درواغو او فحش ويلو او کنځلو او نورو بدو عاداتو څخه ساتي؛ لکه څرنگه چې د حج په موسم کې يې د الله تعالی په دې قول :(فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلا رَفَثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ).البقرة:(١٩٧) عمل کړی ؤ، نو د حج څخه وروسته هم بايد په همدغه وعده باندې قائم پاتي شي.

د حج څخه وروسته بايد دحاجي اعمال او عادات د قبول شوي حج ترجماني وکړي او پخوانيو عاداتو ته ونه گرځي او تل د گاونډيانو حقوقو ته توجه وکړي، لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:«خَيْرُ الأَصْحَابِ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ، وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ» مسند أحم (١١ /١٢٦)

ژباړه: له ملگرو څخه غوره ملگری په دوی کې د الله تعالی په وړاندې هغه دی چې د ملگري لپاره غوره وي او له گاونډيانو څخه غوره گاونډي هغه دی چې د خپل گاونډي لپاره غوره وي.

د حج څخه وروسته حاجي بايد نورو ته خير رسوونکی وي او له خلکو د شر دفع کوونکی وي. په حديث شريف کې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« أَحَبُّ النَّاسِ إلى اللهِ ، أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ، يَكْشِفُ عَنْهُ كُرْبَةً، أَوْ يَقْضِي عَنْهُ دَيْنًا، أَوْ يَطْرُدُ عَنْهُ جُوعًا». المعجم الكبير للطبراني (١٢ /٤٥٣)

ژباړه: ډير خوښ الله تعالی ته له خلکو څخه هغه کس دی چې زيات نفع رسوونکی وي خلکو ته ، لرې کوي له ده (مسلمان څخه) سختي او يا اداء کوي دده(مسلمان څخه) د هغه قرض او يا لرې کوي له ده(مسلمان څخه) ولږه.

حاجي بايد د حج څخه وروسته د خلکو لپاره د خير مرجع وګرځي او لکه څرنګه چې خلک ورڅخه د نيکيو تقاضا لري نورو ته يې خير او نيکي ورسيږي او ټولنه د خپل او نورو د شر څخه وساتي او د خير کونجي وګرځي. په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلْخَيْرِ، مَغَالِيقَ لِلشَّرِّ، وَإِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلشَّرِّ مَغَالِيقَ لِلْخَيْرِ، فَطُوبَى لِمَنْ جَعَلَ اللَّهُ مَفَاتِيحَ الْخَيْرِ عَلَى يَدَيْهِ، وَوَيْلٌ لِمَنْ جَعَلَ اللَّهُ مَفَاتِيحَ الشَّرِّ عَلَى يَدَيْهِ» سنن ابن ماجه (١ /٨٦)

ژباړه: دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : بيشکه بعضې له خلکو څخه (داسې کسان دي چې ) د خير کونجيانې دي او قلفونه دي د شر او ځينې د خلکو څخه (داسې کسان دي) چې کونجيانې دي د شر او قلفونه دي د خير، نو خوشحالي ده د هغه چا لپاره چې الله تعالی ګرځولي وي کونجيانې د خير دده په لاس کې او هلاکت دې وي د هغه چا لپاره چې ګرځولي وي قلفونه د شر دده په لاسونو کې.

## د حج داداء کولو څخه وروسته په هغو وعدو ثابت پاتې کيدل چې د الله تعالیٰ سره شوي دي.

همدا راز د قبول شوي حج له علاماتو څخه بله علامه د حج څخه وروسته پر نيکو اعمالو او افعالو باندې ثابت پاتې کيدل دي.

څوک چې حج وکړي نو داسې شخص لره په کار دي چې خپله صحيفه سپينه او پاکه وساتي او د حج په وعدو او تعهداتو ثابت پاتې شي.

د هر عبادت خصوصاً د حج څخه وروسته په مسلمان لازم دي چې د خپل خالق په طاعت او عبادت باندې ثابت پاتې شي او داسې نه وي چې يو ځل عبادت وکړي او بيا ورته شا کړي .

نو حجاجو چې په حج کې يې کوم لمونځونه کړي دي او يا يې صدقات ورکړي دي او يا يې اذکار او دعاګانې کړي دي بايد دغه سلسلې ته دوام ورکړي او ورباندې ثابت پاتې شي. الله جل جلاله فرمايلي دي:(فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ).فصلت:(٦)

ترجمه: پس سم مستقيم ورځئ ده ته (په توحيد) او مغفرت وغواړئ له ده نه.

الله جل جلاله د هغه چا صــفت کړی دی چې د الله تعالی په وحدانيت او عبادت باندې ثابت پاتې شي او د هغوی لپاره يې پنځه دوله انعامات ذکر کړي دي.(إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ(٣٠) نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ(٣١) نُزُلاً مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ).فصلت:(٣٢)

ترجمه:بېشکه هغه کسان چې ویلي دي صدقاً له زړه چې رب زمونږ الله دی بیا ټینګ ولاړ وي (په دغه توحید او نورو اعمالو د دین) را نازلیږي به پر دوی پرښـتې ( د سـا ختلو په وخت او په قبر کې چې داسـې به وايي) مه ویرېږئ او مه خپه کېږئ او خوشاله اوسئ تاسې په جنت هغه چې وئ تاسې چې وعده یې در سره کړی شوې ده (په ژبې د انبیاء الله سره). (بل داسې ورته وايي ملائکې) مونږ یو دوستان ستاسې په دغه ژوندون لږ خسیس کې (په حفاظت او نصرت) او په آخرت کې (چې به درځخه لرې کړو وحشت د قبر او وبه مو رسوو جنت ته). او شته تاسې ته په دغه جنت کې هغه نعمتونه چې خوښوي یې نفسونه ستاسې او شـته تاسـې ته په دغه (جنت) کې (له هغو لذاتو کراماتو) چې غواړئ یې تاسـې.مېلمسـتیا ده له (جانبه د الله) چې ښـه ښښونکي( د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

په یو بل سورت کې راځي :( إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ(١٣) أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ(١٤) ) الأحقاف: (١٣-١٤)

ترجمه: بېشکه هغه کسان چې وايي: رب زمونږ الله دی بیا ټینګ ودریږي (په عبادت د ده) پس نه به وي (هیڅ) وېره پر دوی او نه به وي دوی چې خپه به شي (په آخرت کې). دغه کسان یاران اوسیدونکي د جنت دي په دې حال کې چې همېشه به وي دوی په دغه( جنت) کې ورکوله به شي دوی ته جزاء په سبب د هغو (نېکو عملونو) چې وو دوی چې کول به یې(په دنیا کې).

حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه دا مبارک آیت په ممبر باندې ولوستلو او داسې یې وویل:(استقاموا والله لله بطاعته ولم یروغوا روغان الثعالب).المحرر الوجیز ـ موافق للمطبوع (٥ /١٤)

ژباړه: قسم په الله چې د الله تعالی په طاعت باندې ثابت پاتي شول او د ګیدړو په شان یې چل، فریب او تیښته ونکړه.

ځینې متأخرین مفسرین ددې آیت په معنا کې وايي: " ثم استقاموا " فعلا كما استقاموا قولا بحر العلوم ،للسمرقندي (٣ /٢١٥)

ژباړه: ثابت پاتې شول په عمل باندې لکه څرنګه چې ثابت شوي ؤ په وینا او قول باندې.

پـه یو بل مبارک آیت کې الله تعالی په توحید او عبادت باندې د اســتقامت او ثابت پاتې کیدو امر کړی دی او فرمایلي یې دي:(فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ).هود:(١١٢)

ترجمه:مستقیم او ثابت اوسه لکه چې حکم کړی شوی دی تاته.الله جل جلاله خپل عبادات په کوم ځانګړي وخت او موسم پورې منحصرـ کړی نه دي ،بلکې د الله تعالی عبادت او پرهغې ثبات پاتې کیدل دانسان تر مرګ پورې دوام لري.الله جل جلاله فرمایلي دي:( فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ* وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ)الحجر:(٩٨-٩٩)

ترجمه:نو تل تسبیح وایه سره له حمده د رب خپل او شه تل دسجده کوونکیو څخه او عبادت کوه د رب خپل تر هغه پورې چې راشي تاته یقین(یعنې مرګ).په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلاً).المزمل:(٨)

ترجمه:او یادوه نوم د رب خپل او ځان فارغ کړه د الله جل جلاله عبادت ته په فارغولو سره . په دې مبارک آیت کې اشاره ده دیته چې په دوامداره توګه د الله تعالی پر عبادت ثابت پاتې شه.

حضرت حسن بصري رحمه الله جليل القدر تابعي وايې:«أَبَى قَوْمٌ الْمُدَاوَمَةَ، وَاللهِ، مَا الْمُؤْمِنُ الَّذِي يَعْمَلُ شَهْرًا أَوْ شَهْرَيْنِ أَوْ عَامًا أَوْ عَامَيْنِ لَا وَاللهِ مَا جَعَلَ اللهُ لِعَمَلِ الْمُؤْمِنِ أَجَلًا دُونَ الْمَوْتِ» تقريب زهد ابن المبارك (ص: ٢٩)، الزهد لأحمد بن حنبل (ص: ٢٢١)

ژباړه:ځينو خلکو پرعبادت باندې د هميشه والي څخه انکار کړی دی . يعنې پر عبادت ثابت نه پاتې کيږي. قسم په الله نه دی کامل مؤمن هغه څوک چې نيک عمل کوی يوه مياشت او يا دوه مياشتې او يا يو کال او يا دوه کاله. قسم په الله چې الله جل جلاله نه دی ګرځولی د مؤمن د عمل لپاره کومه ټاکلې نيټه سوا د مرګ څخه.

رســول الله صــلى الله عليه وســلم پر عباداتو د ثابت پاتې کيدو په هلکه زيات تأکيد کړی دی او په يو حديث شريف کې راځي،عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْ لِي فِي الإِسْلاَمِ قَوْلاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ .قَالَ « قُلْ آمَنْتُ بِاللَّهِ فَاسْتَقِمْ ». صحيح مسلم(١ /٤٧)

ژباړه: د حضرت سفيان بن عبدالله ثقفي رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل ای د الله رسوله! ماته په اسلام کې داسې وينا وښايه چې زه بيا ستا څخه وروسته د هغې په اړه له بل چا څخه پوښتنه ونه کړم. حضرت سفيان رضي الله عنه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: داسې ووايه چې ايمان مې راوړی دی په الله جل جلاله او بيا وربانديې ثابت پاتې شه.

په احاديثو کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به تل په دين باندې د ثابت پاتې کيدو دعاء کوله. په حديث شريف کې راځي، عن أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ:« يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» سنن الترمذي ( /٤٤٨)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې وو رسول الله صلى الله عليه وسلم چې دا دعاء به يې ډيره کوله: ای د زړونو اړوونکيه ! ثابت وساته زړه زما ستا په دين باندې.

رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپلو اصحابو ته داسې نصيحت کولو چې په نيکيو او عبادت باندې مداومت کوئ او په عباداتو ثابت پاتې شئ او عباداتو ته شا مه اړوئ. په يو حديث شريف کې راځي، عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«يَا عَبْدَ اللَّهِ لَا تَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ». صحيح البخاري ت (٣ /١٥)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی ، هغه وايې چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای عبدالله ! د فلاني په شان مه کيږه . هغه به د شپې قيام الليل کولو او بيايې قيام الليل پريښود.

په اسلامي شريعت کې د خپل توان په هميشه ډول کم عبادت ، ددې څخه بهتره دي چې يوځل زيات عبادت وشي او بيا پريښودل شي.

په حديث شريف کې راځي، عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- أَنَّ النبِيَّ ﷺ قَالَ:« يَا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ مِنَ الأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ، فَإِنَّ اللهَ لاَ يَمَلُّ حَتَّى تمَلُّوا، وَإِنَّ أَحَبَّ الأَعْمَالِ إِلَى اللهِ مَا دُووِمَ عَلَيْهِ، وَإِنْ قَلَّ، وَكَانَ آلُ مُحَمَّدٍ إِذَا عَمِلُوا عَمَلاً أَثْبَتُوهُ».متفق عليه

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای خلکو! تاسې دومره (نيک) عمل کوئ، چې تاسو يې توان لرئ، بيشکه الله تعالى نه قطع کوي ثواب خپل له تاسو څخه، ترڅو چې تاسې ستړي شئ (او نيک عمل پريږدئ ،نو بيا الله تعالى د نيک عمل د پريښودلو په وجه له تاسې خپل ثواب قطع کوي). بيشکه ډير خوښ عمل له نيکو عملونو څخه الله تعالى ته هغه دی چې په هغې هميشه والى وشي ، ولو که هغه عمل کم وي او وو آل د رسول الله صلى الله عليه وسلم (يعنې د نبي عليه السلام کورنۍ او خپلوان) کله به چې يې کوم عمل وکړ په هغې به يې هميشه والى کولو.

پر عباداتو د ثابت پاتې کيدو او هميشه والي په اړه د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه هم زيات روايات نقل دي.

په يو روايت کې راځي،عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها -، أَنَّهَا كَانَتْ تُصَلِّي الضُّحَى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ تَقُولُ:« لَوْ نُشِرَ لِي أَبَوَايَ مَا تَرَكْتُهُا». موطأ مالك رواية أبي مصعب الزهري (١ /١٥٧)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې هغې به لمونځ کولو د څاښت اته رکعته او بيابه يې ويلې: که چيرې را ژوندي کړل شي ماته زما مور او پلار ، بيابه هم زه دا عمل پرينږدم.

څوک چې حج وکړي او د حج څخه وروسته بيا عباداتو ته شا کړي او داسې ووايي چې حج مې وکړ او نور نو څه ته حاجت نشته، دا خو داسې ده لکه څوک چې يو ځل په جماعت لمونځ اداء کړي او زيات نفلي لمونځ هم وکړي او د الله تعالى سره وعده وکړي چې نور به لمونځ نه ترک کوم ، خو وروسته بيا لمانځه ته شا واړوي.

د هغو خلکو په باره کې چې حج وکړي او بيا عباداتو او بندگۍ ته شا کړي، الله تعالى يو مثال بيان کړی دی او فرمايلي يې دي:(وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِن بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا).النحل:(٩٢)

ترجمه: او مه کيږئ تاسې( په نقض د عهد کې) په شان د هغې (ښځې) چې ببرته به يې او مه کول تارونه وريشلي خپل وروسته د محکم والي( د هغه په تاوولو د هغو سره) حال دا چې ټوټې ټوټې وي.

**أَقُولُ قَولي هذا ، وَأَستَغْفِرُ اللهَ لِي وَلَكُمْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرُوهُ ، إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُالرَّحِيم.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**